پر منافقانو تر ټولو دروند لمونځ د ماخوستن او سهار لمونځونه دي، که دوی پوه شي چې په دوی کې څه دي، نو دوی به ورته راتګ کړی و، اګر که په خاپوړو وای

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "پر منافقانو تر ټولو دروند لمونځ د ماخوستن او سهار لمونځونه دي، که دوی پوه شي چې په دوی کې څه دي، نو دوی به ورته راتګ کړی و، اګر که په خاپوړو وای، او ما هوډ وکړ چې د لمانځه د ادا کولو امر وکړم، بیا یو سړي ته امر وکړم چې خلکو ته لمونځ ورکړي، بیا د ځان سره سړي بوځم چې د لرګیو ګیډې ورسره وي، او په هغو خلکو کورونه وروسوځوم چې لمانځه ته نه حاضیږي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د منافقینو او په لمانځه کې د هغوی د سستۍ او په ځانګړې توګه د ماخوستن او سهار په لمونځونو کې د هغوی د سستۍ په اړه خبر ورکوي او فرمایي چې: که دوی پوه شي چې د مسلمانانو سره په جماعت کې د ګډون کولو اجر او ثواب څومره دی، نو دوی به لکه د ماشوم په څېر په خاپوړو دې دواړو لمونځونو ته راتګ کړی وو. او رسول الله صلی الله علیه وسلم دا تصمیم نیولی و چې د لمانځه د ادا کولو امر وکړي او د هغه پر ځای یو سړی د خلکو امامت وکړي، بیا لاړ شي او هغه خلک له ځان سره واخلي چې د لرګیو ګیډې ورسره وي، هغو سړیو ته ورشي چې د جماعت لمونځونو ته نه حاضیږي، نو کورونه پرې په اور سره وسوځوي، د هغې سختې ګناه له امله چې دوی کړې ده، - خو دا کار یې ونه کړ - ځکه چې په کورونو کې بې ګناه ښځې، کوچنیان او نور معذوره خلک وي چې هېڅ ګناه نه لري.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3366